# دِ اِسلام ساتونکي ته

عالمانو، داعیانو او مجاهدینو ته ! د تشکیل په دوران
کې څو لیکل شوې کرښې .



[illegible]

Ketabton.com

تاریخ: ۱۴۳۶/شوال/۱۵

ketabton.com - The Digital Library

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

ketabton.com - The Digital Library

# د کتاب پېژندنه


د کتاب نوم : د اسلام ساتونـکي ته

لیـکوال : م. عبد الله ( سعید )

کمپوز : ( خبیب خپلواک )

د چاپ کال : ۱۴۴۶ هجري قمري

طبع :

د چاپ شمیر :

ketabton.com - The Digital Library

# ډالۍ

دا کتاب د مدرسې طالب العلمانو، د ښوونځیو زده کوونکو،

د پوهنتون محصلینو، ټولو با احساسه ځوانانو

او هغو تنکیو او مېړنیو شازلمو ته ډالۍ کوم

چې په کمو وسایلو او لږه تجربه؛ خو په قوي

عزم او ایمان او د الله تعالی پر ذات په پوره توکل

یې د صلیبي ناټو د لښکرو رسیدلي ماهر پوځیان او جنرالان

د جګړې په هر ډګر کې په ګونډو کړل.

ketabton.com - The Digital Library

# نوملړ


د ليکوال سريزه.......................................... ٥

تقـــــريظ ................................................ ٧

د پيل خبرې ............................................ ١٠

دين خيرخواهي ده ! .................................... ١٣

خلک ډېر خو عمل کم ده ................................ ١٦

سختې ورځې مدرسه ده ................................. ١٨

ديني سختېو کې خوندونه دي ............................. ١٩

مصيبتونه ستا درجه لوړوي ............................... ٢١

مبيعه خپل ښتن ته وسپاره ................................ ٢٣

ښنګه به په امتحان صبر کوې.............................. ٢٦

ستا ثابت پاتې کېدل د دښمن مکر ماتوي ..................... ٢٨

درد تلونکی او ثواب پاتې کېدونکی دی ........................ ٣٠

د جهاد مينه!!! ............................................ ٣١

فراغت ته مه ګوره ........................................ ٣٤

ای د الله تعالی د لار لارويه تا ته سترګې په لار يو ! ................. ٣٧

دويـــــم فصل ............................................ ٣٩

هجرت لويه قرباني ده! .................................... ٣٩

ketabton.com - The Digital Library

هجرت او جهاد؛ نبوي منهج او د صحابه وو رضی الله تعالی عنهم تګلاره ده.
.............................................................. ٣٩
د مؤمن صفات ........................................................ ٤١
اسلامي تاریخ او هجرت .................................................. ٤٣
د هجرت د انتخاب تاریخي شالید ........................................... ٤٣
د هجرت د تاریخ د پیل راز ................................................ ٤٤
د هجرت په کال کې د اسلامي امت بریا ..................................... ٤٥
د هجرت نه کولو علتونه .................................................. ٤٥
١.ډیر مسلمانان د کفر، شرک، سیکولریزم او دیموکراسۍ له ځمکو څخه
هجرت نه کوي: ........................................................... ٤٦
٢.کافر او مرتد حکومتونه مسلمانانو ته د هجرت اجازه نه ورکوي: ..... ٤٦
٣.د هجرت سره تړلي تحریفات او غلط فهمۍ: ............................... ٤٦
۴.د صلیبي ترون اغېزې:.................................................. ٤٧
۵.د اسلامي امت تقسیم:................................................... ٤٧
۶.د چین او نورو کفري حکومتونو ظلمونه: ................................. ٤٨
په اسلام کې د هجرت اهمیت ............................................. ٤٨
اوس وخت............................................................... ٤٩
هجرت، ولاء او براء ...................................................... ٥٠
د نن زماني ستونزې په هجرت کې ......................................... ٥٠

ketabton.com - The Digital Library

د کفارو چلند............................................ ٥١
په هجرت کې هدایت دی ................................ ٥٢
هجرت د جهاد لومړی مرحله................................ ٥٤
پـــای ............................................ ٥٤

# د لیکوال سریزه

**الحمد لله وحده والصلوة والسلام علي من لا نبي بعده:**

**دهر څه نه مخکې دخپل څښتن تعالی ډیر شکر ادا کوم چې ماته یې په داسې یوه لاره کې مقبولیت راکړ چې هغې لاره کې داسلام حقیقت پیژندل کیږي لکه شېخ عبدالله عزام. رحمه الله چې ویلی : د دین حقیقت یواځې کتابخانو او د کتابونو د صفحو منځ کې نه پیژندل کیږي تر څو د دغو ورقو اړولو سره سره د جهاد د سنګرونو مزه ونه څکي او هرڅه په سترګو ونه ګوري.**

**او د دې تر څنګ یې ما ته د دعوت توفیق راکړ چې دخپلو ملګرو او د دین ټولو داعیانو لپاره یو څه لنډه لیکنه په هغه څه کې وکړم چې د دوی لپاره د صبر او اسقامت د زیاتیدو سبب شي ، ځکه**

ketabton.com - The Digital Library

دمجاهدینو او حق پرستو داعیانو تکلیفونه ما په سترګو لیدل چې ډیری وخت به دومره سختیو سره مخ شول چې له هرڅه به مایوسه او نا امیده شول .

الله ﷻ دي وکړي چې په دې لنډه او مؤثره لیکنه باندې د دوی د صبر او استقامت روحیه د دین د دعوت او بلنې په لاره کې لا پیاوړې او غښتلې شي

دا لنډه لیکنه کې که زه خطا شوی یم اول له الله ﷻ څخه معافي غواړم او بیا له ټولو علماؤ او لوستونکو څخه ، ځکه چې دا لیکنه ما په جهادي سفرونو کې په داسی حالاتو او ځایونو کې چې ډیرې سختی او مشکلات به وو په شپو او ورځو مزل او سفر وو خو بیا هم چې کوم ځای کې به لږ هوسا او دمه شوم بیا به مې له ملګرو څخه ځان ګوښه کړ او دغه لیکنه به مې کوله او که حق ته پکې رسیدلی یم الله ﷻ څخه یې د اجر او ثواب غوښتونکی یم.

پای کې د هغو ملګرو څخه ډیره مننه کوم چې ماسره یې تل د دعوت او مبارزې میدان کې همکاري کړې په خاصه توګه خپل خوږ ملګري د فکري او سیاسي حالاتو مبصر او مبارز مولوي ص. خبیب حیلواک څخه چې ډیرو خدمتونو کې په خاصو توګه دکمپوز برخه کې یې ماسره تل بدرګه او مرسته کړې.

الله ج دې ټولو ملګرو همکاري دخپلې رضاء لپاره وګرځوي.

ketabton.com - The Digital Library

م. استاد عبد الله ( سعید )

# تقـــــریظ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الحمد الله رب العالیمن معزّالمجاهد و ناصر المؤمنیین والصلوة والسلام علی سید الانصار والمهاجرین.

اما بعد : دا چې دجهاد عبادت د دین اسلام دنورو عبادتونو نه په ډیرو اصولو او دلائلو افضل او بهتر عبادت بلل شوی . نو یقینا د دې عبادت په اداء کولو کي د ډېرو ستونزو مشکلاتو او ازمیښتونو له امله اجراو ثواب زیات دی ، ځکه چې جهاد نه صرف د مؤمن او منافق تفریق کوي بلکي خپله دمؤمنانو او مجاهدینو په درجاتو کي هم د فرق ذریعه ګرځي مثلا دعالم ، متقي او فدائي مجاهد درجه له یو عام او عادي

ketabton.com - The Digital Library

مجاهد له درجې څخه ظاهرا توپير لري خو باطن باندي صرف الله خبر دی.

دا چې جهاد دومره افضل او ممتاز عبادت دی نو په صحي او مکمل ډول پرې پوهيدل او په شرعي بڼه دا عبادت ترسره کول هم خورا مهم او ضروري کار ده.

بناءً په دغه موضوع زموږ د ستونزمنې لارې لاروی ، د هجرت او جهاد د سنگرونو ملگری ځوان داعي او عالم محترم م. استاد عبد الله (سعيد)

دامت ځوانانو ته بالعموم او دسنگر غازيانو ته بالخصوص يو څو لار ښوني کړي دي چي يقينا دډيره درده خلوصه او فائدې څخه ډکې ښوني دي.

استاد محترم چونکه خپله دهجرت او جهاد سختی پخپلو سترگو ليدلی او ويني نو له همدې امله د داسي ستونزو صحيح ادراک او حل يې بيان کړی، يو عام مسلمان ځوان يي جهاد ته رابللی او مجاهد يي استقامت ته هڅولی ، نو د داسې با ارزښته کتاب د تصنيف اصلي موخه دا دی چې جهاد او استقامت يواځې په دعوت نه ختميږي بلکې د دعوت او جهاد نه بعد يي هغه طريقې هم واضح کړي دي چی په عملي کولو سره يي د دې مقدس اعمال يعنې جهاد ، هجرت اودعوت اصلي اهداف حاصليږي.

لکه داستقامت په باب کي فقط دصبر تلقين ندي شوي بلکي هغه طريقه هم ښودل شوی ده چي صبر څنگه وکړو او څنکه کولی شو يو صابر مجاهد او مبارز او وسوو.

ketabton.com - The Digital Library

نو په دي لحاظ هر هغه بااحساس ځوان لپاره چي د هجرت او جهاد اراده لري یا اوس هم په دي میدان کي مبارزه کوي دا یوه بهترینه رساله ده چي باید مطالعه یې کړي او له قیمتي لاربښونو څخه یې مستفید شي .

الله رب العزت دي استاد محترم ته د دې درد او فکر په عوض کښې د دونیا او اخرت کامیابي په نصیب کړي .

او الله ج دي ټولو لوستونکو ته هم دعمل کولو توفیق ورکړي . آمین یارب العالمین

وصلي الله تعالي علي خیر خلقه مُحَمَّد و على آله او اصحابه اجمین .

غازي شهاب الدین

امیر حرکت انقلاب اسلامي پاکستان

ketabton.com - The Digital Library

## د پیل خبرې

دا یو منلی حقیقت دی، چې اسلام یو فطري او عالمي دین دی، په هره زمانه کې د انسانانو د ژوندانه د هرې برخې، مثلا: عباداتو، حکومتولۍ، له نورو ملتونو سره د اړیکو، اقتصاد او نورو برخو لپاره بشپړ او د عمل وړ حکمونه او لارښوونې لري.

د یو فطري دین په توګه د اسلام پیروي د هر عاقل او دانشور لپاره یو غوره انتخاب دی، سلیم عقل پخپله انسان ته د دې فطري دین د منلو بلنه ورکوي، همدا لامل دی، چې د اسلام له نظره په زوره د چا مسلمانول روا نه دي، الله تعالی فرمایي: ﴿لَا اِكْرَاهَ فِي الدِّيْنِ قَدْ تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ ١﴾[البقرة:۲۵۶] ژباړه: د دین په منلو کې هیڅ ډول زور زیاتی نشته، هدایت په ښکاره ډول له ګمراهۍ بېل کړی شوی دی.

دا یو داسې عام او قطعي نص دی، چې نه منسوخ شوی او نه پکې تخصیص شوی. دا ځکه چې کله د اسلام حکمونه او لارښوونې بیخې

ketabton.com - The Digital Library

ښکاره او په هره زمانه کې د عملي کېدو وړ دي؛ نو بیا زور-زیاتي ته څه اړتیا ده؟ همدا د نامتو مفسرینو: امام رازي، ابن کثیر، طبري او جصاص رحمهم الله تعالی نظر هم دی.

خو کله چې د کافرانو لخوا د دې فطري او عالمي دین د دعوت مخه ونیول شي، او یا یې په حریم او پیروانو یرغل او ظلم وشي، اسلام خپلو منونکو ته د داسې خنډونو د له منځه وړلو او له دیني ارزښتونو د دفاع لپاره د جهاد امر کوي، چې په مټ یې اسلامي ټولنه له کفري حاکمیت، کلتور او عنعناتو څخه وژغورل شي.

له ډېر پخوا راهیسې د اسلام دښمنانو د فکري او رواني جګړې له لارې، د اسلام لوړه څوکه (جهاد) تر برید لاندې نیولې، او هڅه کوي له دې لارې د اسلام د پرمختګ مخه ونیسي، هغوی د مستشرقینو او رسنیز پوښښ له لارې داسې ګنګوسې خپروي، چې ګویا د رسول الله صلی الله علیه وسلم او له هغه وروسته د خلفاوو په زمانه کې شوي جهادونه — نعوذبالله من ذلک- یوازې او یوازې د اقتصادي ګټو ترلاسه کولو او د خپلې امپراطورۍ د غځولو لپاره شوي دي.

خو حقیقت داسې نه دی، بلکې د اسلام په تاریخ کې شوي جهادونه یوازې او یوازې د دې فطري او عالمي دین د دعوت په لاره د پرتو خنډونو د له منځه وړلو او د بشریت د روښانه مستقبل لپاره شوي دي. په دې اړه د اسلامي نړۍ نومیالی عالم دوکتور وهبة الزحیلي-رحمه الله- په خپل کتاب (العلاقات الدولیة) کې لیکي:

ketabton.com - The Digital Library

« مسلمانان په خپل دعوت، بلنه او جګړو سره د ځان او یا ټول بشریت د خیر ښیګڼې پورته کوونکې دعوت پرخلاف د تر سره کېدونکې تیري له منځه وړل غواړي، اسلام د نورو قومونو استحصال او استعمارونکی نظام نه تائیدوي، اسلام له دې ډول نظام څخه په ټوله معنا انکار کوي، همدا وجه ده، چې د تاریخ په اوږدو کې یې هیڅکله هم استعماري څېره نه ده خپله کړې». دوکتور وهبه زحیلي -رحمه الله – د همدې کتاب په مقدمه کې د جهاد، د ارزښت په هکله لیکي:

«که څه هم په اوسنۍ بشري ټولنه کې د مثالي اصولو د پلي کېدو د عوه کېږي او خلکو ته د بشر دوستۍ د اصولو پر اساس د ټولو معاملو د پرمخ بېولو بلنه ورکول کېږي او د دې ډول اصولو څارنه او سرپرستي د ملګرو ملتونو په نامه نړیواله اداره کوي؛ خو د دې ډول ښکاره سولې تر شا لا هم ډول-ډول وېروونکې وسلې، جرارې لښکرې او په یوه ثانیه کې د ټول بشریت له منځه وړونکې اتومي بمونه پټ دي!

له همدې امله چې قران کریم مسلمانانو ته د مادي او معنوي ځواک تیارولو کوم ټینګار کړی او رسول الله صلی الله علیه وسلم جهاد، د اسلام لوړه څوکه بللې، یوه منطقي او پرځای بلنه ده؛ ځکه چې اوسنۍ نړۍ کې د خبرې منلو معیار همدا دی او ځمکني حقایق هم همدا وایي»

نو موږ هم په دې رساله کې د دعوت ، بلنې او هجرت په اړه تاسو قدرمنو لوستونکو ته لنډ او ګټور معلومات وړاندې کوو په دې هیله چې علمي او جهادي تنده مو پرې خړوبه شي.

ketabton.com - The Digital Library

## دين خيرخواهي ده !

دا هغه څه دي چې زموږ داسلام پيغمبر ﷺ خپل امت ته فرمايلي دي؛ په دې جمله کې دامت لپاره لوی تربيت ده، چې که ژور فکر پکې وکړو ريښتيا هم دين دانساني ټولنې لپاره لويه خيرخواهي ده؛ انسانان د دنيا او آخرت له بدبختيو ژغوري. دين هغه څه دی چې د انسانانو د جوړښت يووالي نظم وړباندې راځي، تجربو هم ثابته کړې کوم کور، کلي او ټولنه کې چې دين تطبيق شي امن او سوکاله ژوند وي او که دين ته خلک شا کړي بيا غمونه نا امنۍ او اختلافات رامنځته کيږي.

د دغه دين د خپرولو او بلنو لپاره بلونکې وي چې شپه او ورځ د الله ﷻ د دين لپاره جهاد، دعوت، تبليغ او مبارزه کې مصروف وي؛ خو د دين تر څنګ بيا داسې مشکلاتو سره مخ شي چې بعضې وختونو کې حوصله بايلل کيږي، چې دا يوه لويه ناکامي وي؛ نو هغو وروڼو ته زما خبرې متوجه دي: اې د الله ﷻ د لارې لارويه ! هغه څه وکړه د کوم څه په اړه چې مبارک صحابي ابن رواحة فرمايلي دي:

ketabton.com - The Digital Library

**«ما نقاتل الناس بعدد ولا قوة ولا كثرة، ما نقاتلهم إلا بهذا الدين الذي أكرمنا الله تعالى به».**

**ژباړه : موږ خلکو سره نه د شمیر ، نه د ځواک اونه د زیاتوالي په خاطر جګړه کوو ، بلکې موږ هغوی سره یوازې دغه دین په سر چې الله تعالی موږ پرې عزتمن کړي یو جنګیږو.**

**«السيرة الحلبية = إنسان العيون في سيرة الأمين المأمون» (٣/ ٩٧)**

**دا هغه جمله ده چې تا یو شي ته متوجه کوي، چې هغه په دین باندې عمل کول دي ځکه ستا جهاد، دعوت، تبلیغ او مبارزه د دین لپاره دي نو تر هر چا په دین کلکې منګولې ولګوه تر هر چا ورته ډېر پابند شه او تر هر چا ډېر ورته وفادار شه.**

**هغه جنګیالي چې دجنګ په میدان کې پخپله سلاح منګولې لګوي، تر هغه هم ته پخپل دین کلکې منګولې ولګوه، ځکه دغه جنګیالي که خپله وسله له لاسه ورکړي ضرور به د دښمن ښکار شي نجات به له لاسه ورکړي او یو لوی تاوان سره به مخ شي؛ ته د هغه جنګیالي څخه هم پخپل دین ډېرې ټینګې منګولې ولګوه او پخپل دین حریص شه ځکه که ته هم دین له لاسه ورکړې ضرور به نجات له لاسه ورکړې او یو لوی تاوان سره به مخ شې؛ نو ستا قوي وسله دین باندې عمل کول دي ځکه الله ﷻ هغه چاته کامیابي او نصرت ور په برخه کوي چې اطاعت یې کوي، اعمال په اخلاص سره وکړي او توکل ورباندې**

ketabton.com - The Digital Library

**وکړي ځکه الله ﷻ فرمايلي دي : ﴿وَلَيَنصُرَنَّ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ﴾ ٤٠ [الحج: ٤٠]**

**ژباړه : الله تعالی به خامخا ده هغو کسان مرسته وکړي ، څوک چې د الله تعالی د دين مرسته وکړي .**

**که څوک په اطاعت اخلاص، توکل او د ګناهونو په پرېښودلو سره د دين نصرت کوي ضرور به يي الله ﷻ هم نصرت کوي او که څوک برعکس وی نو الله ﷻ به يې هم نصرت نکوي لکه څنګه چې عمر الفاروق «رض» فرمايلي: (فإن لم نغلبهم بطاعتنا غلبونا بقوتهم). ژباړه : که موږ هغوی ( کافران ) د خپل اطاعت او پرهيزګارۍ په وسيله مات نه کړو ، نو هغوی به موږ د خپل زور او قوت له لارې مات کړي ،**

**داسلام لوی خليفه او اميرالمؤمنيين څومره ښه ويلي، څومره لوی تربيت يې د امت لپاره پريښی، عمر الفاروق رض به د دښمن څخه دومره په وېره کې نه وو لکه څومره به چې د خپل لښکر په ګناهونو باندې وېرېده.**

**دا د اسلام د خليفه فقه او بصيرت و، چې الله تعالی ورکړې وه او د کاميابۍ په راز يې پوه کړی و. دا د اسلامي امت لپاره يو لوی تربيت ده چې کاميابي د الله ﷻ په اطاعت او نېکو اعمالو کې ده چې دا يوه قوي وسله ده.**

ketabton.com - The Digital Library

**خلک ډېر خو عمل کم ده**

موږ وینو چې په اسلام ترلي خلک ډېر دي، حتی یوې منطقې او یو کلي ته چې وګورو په ډېر شمېر ځوانان شته دي او همداسې ډېر خلک شته چې اسلام ته د خدمت کوونکي نوم ورکول کېږي؛ خو د عمل په میدان کې په ډېر کم تعداد خلک دي د مثال په توګه: په زرهاوو مدرسې شته چې هر کال په زرګونو علماء ور څخه فارغېږي؛ خو د قتال میدان کې بیا د ګوتو په شمیر عالمان وینو بلکې داسې علماء هم لیدل کېږي چې خپل شاګردان د جهاد څخه منع کوي، جهاد ته بې لارې او بغاوت وایي، داسې مرشدین وینو چې خپل مریدان یې د جهاد په کولو رټلي او جهادي عمل یې د تزکیې خلاف بللی او یوازې په تدریس، امامت او خانقاه پورې یې اسلام او اسلام ته کار کول محدود کړي(نعوذ بالله من ذالک). چېرته دي دغه د دین خادمین چې د مجاهدینو تربیت او تزکیه په عملي میدان کې وکړي؟.

اې د دغې لارې لارویه! مبارزه وکړه، ستړیا تېره کړه! امت ته له دغه حالت څخه نجات ورکړه، د جهاد میدان له پوهانو ډک کړه، همداسې زموږ تجاران وروڼه داسې پخپل تجارت کې مصروف شي چې دین ته کار کول ترې هېر وي او که هېر نه وي جهاد ته هغومره اندازه خرچ ورکوي چې د ده داولاد روزانه خرچه هم نکېږي. اې زما تجاره

ketabton.com - The Digital Library

وروره! دين ته كار كول يوازې مو ږ ته مه پرېږده كه په ځان جهاد نشې كول په مال سره يې وكړه؛ تجارت د خپل ژوند مقصود مه ګرځوه بلكې مقصود دين وګرځوه. آيا ته ابوبكر رض ته نه ګورې چې خپل ټول مال يې د الله په لار كې صدقه كړ؛ كله چې رسول صلى عليه وسلم ورته وفرمايل: (و ماذا تركت لاهلک يا ابابكر)

ژباړه : څه دي پرېښوده د خپل اهل لپاره اى بوبكره. ده ورته وفرمايل: (تركت لهم الله و رسوله). ژباړه: خپل اهل او عيال ته مې الله او د هغه رسول الله ﷺ پرېښود هـ. عثمان رض ژوند ته نه ګورې چې د تبوک لپاره يې ټول لښكر تنها مجهز كړ، هغه لښكر چې په زرګونو مجاهدين پكې شامل وو. داسې څوک نشته لكه ابوبكر او عثمان. د نن زمانې لپاره هغه د شيخ اسامه رح ژوند ته وګوره چې د نړۍ د لويو مالدارانو په سر كې و؛ وګوره چې څنګه يې خپل كور، اولاد او مال د الله په دين قربان كړل، هغه چې د ټول امت لپاره يې يو جهادي صف ژوندى كړ او امت يې له شرق او له غرب سره وتاړه.

اې زما ديني وروره! ځان سره د نن او پرون حساب وكړه چې څنګه تېرېږي او بيا فيصله وكړه. يقينا چې دا ژوند تېريدونكى دى؛ راشه له هغه ژوند څخه خوند واخله چې ناكامي نلري هغه ژوند چې خفګان، ستړيا او قرضداري نلري، هغه د جنت او د رضاء ژوند دى.

ketabton.com - The Digital Library

## سختې ورځې مدرسه ده

اې د دغې لارې لارویه! که له دغې سختې او امتحاني مدرسې څخه فارغ شوې الله تعالی به دې په هغه څه ونازوي په کومو یې چې زموږ اسلاف رحمهم الله او صحابه کرام رضي عنهم ونازول، چې هغه دخپل مولا رضاء ده. که په دې مدرسه کې کامیاب شوې رب تعالی به دې په دین کې یو ربښتینی قائد او امام وګرځوي (وجعلنا ائمة یهدون بامري لما صبروا) ژباړه : او مونږ له هغوی څخه مشران ( رهنمایان ) جوړ کړل چې زموږ په حکم یې خلک هدایتول ، دا ځکه چې دوی صبر وکړ او زمونږ په آیتونو یې یقین درلود .

دا هغه مدرسه ده چې عمار بن یاسر، بلال بن رباح، صهیب، سلمان، خباب بن ارت، خبیب بن عدي او داسې نور په زرګونو صحابه کرام رضی الله عنهم ور څخه فارغ شوي. دا هغه مدرسه ده چې سعید بن جبیر، مالک بن انس، امام ابو حنیفه او د دوی لوی لوی شاګردان ور څخه فارغ شوي؛ دا هغه مدرسه ده چې زموږ اسلاف او لوی لوی مشران او استادان لکه: ابن تیمیه، ابن قیم او امام سرخسي ورڅخه فارغ شوي.

نو اې زما دیني وروره! آیا ته نه یې خوشحاله چې له دغې لویې مدرسې څخه د فراغت سند تر لاسه کړې؟ هغه سند چې دغو لویو امامانو هم حاصل کړی. آیا ستا لپاره دغه شرف کافي ندی چې د دغې مدرسې فاضل شې، هغه مدرسه چې اول استاد یې رسول الله صلی الله علیه وسلم دی لکه چې فرمایي:(اؤذیت في الله وما یؤذي احد) ژباړه : زه د الله تعالی ( د دین ) لپاره داسې ازار شوی یم چې بل څوک دومره نه دی ازار شوی .

ketabton.com - The Digital Library

دا د رسول الله ﷺ قول دی: (چې د الله تعالی په لار کې د ستونزو زغملو ته اشاره کوي).

## ديني سختېو کې خوندونه دي

اې د دغې لارې لارویه! د حق په لار مزل کول سخت دي دا عین الیقین ته رسیدلې خبره ده ځکه هره ورځ سختۍ، هجرتونه، زخمونه او شهادتونه لیدل کیږي چې د حق په لار کې راځي خو د دې لارې تلونکي له دغو سختیو څخه داسې خوند اخلي چې پادشاهان یې له خپلې پادشاهۍ نشي اخیستی(ربه! موږ ته هم دغه خوند نصیب کړې).

اې زما ديني وروره! آیا تا د خالد بن ولید هغه کلمات نه دي اوریدلي چې وایي:(مامن لیلة یهدي اي فیها عروس انا لها محب او ابشر فیها بغلام احب الي من لیلة شدیدة البرد کثیرة الجلید في سریة اصبح فیها العدو)

ژباړه : ما ته هغه سخته او یخه شپه چې د دوښمن سره په جنګ یا په دوښمن د حملې په انتظار یې صباح کړم ډیر خوښ او بهتره ده له هغې شپې نه چې زما محبوبې او ناوې ما خپل ځان ته وبلي او دې شپه کې ماته د ځوی د پیدا کیدو زیری هم راکړي .

آیا تا د صلاح الدين ایوبي رح تاریخ کې نه دي لوستلي چې د جهاد زخم او شهادت مینې د قصرونو له ژوند څخه محروم کړي وو او تل به یې د دښتو او خیمو ژوند خوښاوه، آیا تا د عمیر بن حمام په اړه سیرت کې نه

ketabton.com - The Digital Library

دي لوستي چې کله يې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه واورېدل چې څوک شهيد شي ضرور به يې جنت ته داخل کړي، ده ورته وويل: (يارسول الله جنة عرضها السموات والارض)، هغه مبارک ورته وفرمايل: (نعم ) بيا دغه صحابي خرما خوړل پرېښودل او ويې ويل: (ان انا حييت حتى اكل تمراتي هذه لحياة طويلة ).

ژباړه : که زه ترې پورې ژوندی پاتې شم چې دا خپل خرماوې وخورم ، نو دا ډيره اوږده ژوندون او وخت دی، خرما يې وغورځوله او تر هغه وجنګېد څو چې شهيد شو. دا هغه خوند و چې د يوې خرما د خوړلو وخت ته يې هم ضايع وويل او جنت يې ناوخته وباله او د خرما خوړلو وخت ته يې يوه لويه زمانه وويل (سبحان الله). آيا د خبيب بن عدي په اړه دې نه دي اوريدلي چې کله يې دار ته وخېژاوه د مرګ په وخت کې يې هم دا شعر وايه:

«وَلَسْتُ أُبَالِي حِينَ أُقْتَلُ مُسْلِمًا ... عَلَى أَيِّ شِقٍّ كَانَ لِلَّهِ مَصْرَعِي

ژباړه : زه پر دې هيڅ پروا نه لرم که زه د مسلمان په توګه ووژل شم ، او پر کوم اړخ چې زما پريوتل وي ، دا د الله په لار کې وي .

وَذَلِكَ فِي ذَاتِ الْإِلَهِ وَإِنْ يَشَأْ ... يُبَارِكْ عَلَى أَوْصَالِ شِلْوٍ ممزع»

ketabton.com - The Digital Library

ژباړه : او دا ( شهادت ) د الله تعالی لپاره دی ، او که الله وغواړي ، نو زما د ټوټې ټوټې غړو باندې به برکت نازل کړي .

«صحيح البخاري» (٣/ ١١٠٩)

## مصيبتونه ستا درجه لوړوي

اې د دغې لارې لارويه! په جنت کې درجې دي، داسې درجې چې په اعمالو سره هغو ته نشي رسيدلی داسې درجې دي چې الله ﷻ خپلو نېکو بنده ګانو ته تيارې کړې دي؛ خو دغو درجو ته درسېدلو لار يوازې تکليفونه، سختۍ او مشکلات دي او په هدايت او ايمان کې هم داسې درجې شته چې بې له سختيو او تکليفونو ورته نشې رسيدلی الله تعالی چې په تا باندې تکليف راولي ضرور به تا ته دغه درجې درکوي ځکه هم په تا تکليف راولي او بيا صبر درکوي دا د الله جل جلا له لخوا خپلو نېکو بنده ګانو لپاره رحمت دی شکر يې ادا کړه.

اې زما ديني وروه! ته څه فکر کوې که د مکې مشرکينو د صهيب مالونه نه وای لوټ کړي دې درجي ته به رسيدلی و چې رسول الله صلی عليه وسلم ورته اوفرمايل: ( ابا يحي ربح البيع )؟

ژباړه : ای ابا يحيی تا دا معامله ( بيع ) وګټله .

ketabton.com - The Digital Library

ته څه فکر کوې که د یاسر کورنۍ ته عذاب نه وی ورکړل شوی دا درجه به څنګه ورته پیدا شوې وه چې د الله تعالی خوږ پیغمبر حضرت مُحَمَّد ﷺ ورته اوفرمایل: ( صبرا آل یاسر فان موعدکم الجنة )

ژباړه : ای د یاسر کورنیو ! تاسو په دې تکلیفونو باندې صبر وکړئ ، یقینا ستاسو وعده او ځای جنت دی .

ته څه فکر کوې که بلال بن رباح ته د امیه بن خلف لخوا تکلیف نه وی رسېدلی نو ده ته به دا درجه حاصله شوې وه چې (بلال سیدنا)؟ که امام احمد بن حنبل په زندانونو او عذابونو صبر نه وای کړی آیا هغه ته به دا درجه حاصله شوې وای چې امام د اهل السنة والجماعت شو؟ که سید قطب رح ته عذاب، زندان او قتل نه وای رسیدلی آیا په خبرو او کتابونو کې به یې دومره تأثیر پاتې شوی و؟ که د عبد الله عزام رحمه الله غوښې په باروتو نه وی کباب شوې نو اوس به د ټولې نړۍ مجاهدینو اقتداء پسې کړې وه؟ او که شیخ اسامه رحمه الله له خپل شاهي ژوند څخه سفر، هجرت او بالآخره داسې مرګ چې قبر او جنازه یې هم ورکه شوه نه وی تللی نو د نړۍ د جهاد امام به پاتې شوی و؟

دا اقوال د اسلام د لومړیو مجاهدینو ، شهیدانو ، او وفادارو صحابه کرامو او د اسلامي امت د ریښتینو رجالو د قربانۍ ، صبر او توکل ښکلي مثالونه دي ، چې د دوی ژوند د مسلمانانو لپاره یو لوی درس دی ، چې د الله تعالی لپاره باید هرقسم قربانی او سر ښندنی ته تیار او آماده اوسي .

ketabton.com - The Digital Library

اې زما ديني وروره! کله چې الله پاک خپل نيک بنده ګان يوې درجي ته غوره کړي ضرور به دا حالات پرې راولي، تر څو دغه تکليفونه او شهادتونه د خپلې رضاء سبب وګرځوي او کله چې خپلو نيکو بنده ګانو ته اراده وکړي نو وينې يې د خپل محبت او رضاء لپاره وبهوي ځکه چې دغه قيمتي نفسونه خپل ځان لپاره قرباني کړي. وروسته د انبياوو او صديقينو څخه شهادت لوړ مقام دی کله چې الله تعالی له چا څخه راضي شي ضرور دغه مقام ورکوي (ربه ما ته دې هم خپله رضاء او شهادت نصيب کړې).

اې زما ديني وروره! دلته ډېر داسې ګناهونه دي چې کفاره يې يوازې سترې نيکۍ او يا هم سخت سخت امتحانونه دي الله پاک خپلو اولياؤ باندې دغه تکليفونه او سختې راولي چې تر څو د هغه د پټو او ښکاره ګناهونو لپاره کفاره وګرځي او د الله ﷻ په نزد مقبول او منظور شي.

## مبيعه خپل ځښتن ته وسپاره

اې د دغې لارې لارويه! تا خپل ځان په الله ﷻ خر خ کړی، ته نور اختيار نلرې بې له دې څخه چې مبيعه خپل ځښتن ته وسپارې لکه څنګه چې الله تعالی فرمايی :

إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجنة
(سورةالتوبة،آيت ١١١
ژباړه: الله تعالی د مومنانو څخه د هغوی نفسونه او مالونه اخيستی چې د دې په بدل کې دوی ته جنت ورکړي .

ketabton.com - The Digital Library

کله چې مبیعه خپل څښتن ته وسپارل شي څه چې یې خوښه وي کوي یې او چېرته چې یې وغواړي رډدي یې؛ که خوښه یې شي قصرونو کې یې رډدي او که خوښه یې شي زندان ته یې اچوي که خوښه یې شي د فخر ښایسته جامې ور اغوندي او که خوښه یې شي دومره لباس ورکوي چې فقط عورت یې پټ شي او بس؛ که خوښه یې شي غني کوي یې او که خوښه یې شي فقیر کوي یې که خوښه یې شي ډېر عمر ورکوي او که خوښه یې شي په دار یې ځیژوي؛ ته فکر وکړه کله چې یو پلورونکئ یو پسه وپلوري بیا که دغه اخیستونکی دغه پسه ذبح کوي پلورونکی ورته په غوسه کېږي؟ آیا پرې د اعتراض حق لري چې ولې دې ذبح کړ؟ او یا ورباندې خپه شي نه کله هم نه .

اې د دغې لارې لارویه! آیا ته نه یې خبر چې حضرت حمزه رض ته څه دورسېدل؟ خېټه یې وشکېدله، جګر یې را وویستل شو آیا تا ته د هغو صحابه کرامو رض تاریخ نده معلوم چې د احد په غزا کې شهیدان شول خیټیې یې وشکېدلې غوړونه او پوزه یې پرې شول آیا تا د سیرت په کتابونو کې ندي لوستي چې رسول الله ﷺته کوم تکلیفونه ورسېدل یو تکلیف پسې بل هغه پسې بل؛ چې ټول ژوند یې امتحانونو او سختیو کې تیر شو. ابن جوزي رح څه ښه ویلي: (آیا رسول صلی علیه وسلم ضرورت نه درلوده چې آواز یې کړی وی من ینصرني آیا رسول ص ضرورت نه درلوده چې مکې ته تللی وی آرام او د سکون ژوند یې کړی وی، سره له دې چې ملګري یې شهیدان کېدل، لوږه پرې راتله آن تر دې چې خیټو پسې به یې تیږې تړلې، هجرت ته مجبور کېدل او خپلو کورونه څخه شړل

ketabton.com - The Digital Library

کېدل. باوجود د ده چې الله تعالی فرمایلی: ﴿وَلِلَّهِ خَزَآئِنُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ﴾ [المنافقون: ۷]

ژباړه: (خاص الله تعالی لره د ځمکې او آسمانونو خزانې دي)، خو په دغو ټولو حالاتو کې بیا هم چوپ پاتې وو او صبر یې کولو رسول الله ص په ساحر، دروغجن، لیوني، پردي پال او هرڅه باندې متهم شو خو بیاهم چوپ و او خپلې مبارزې ته یې دوام ورکړ ). اې زما دیني وروره! د انبیاء علیهم السلام په ژوند کې فکر وکړه هغه چې د ځمکې په مخ بهترین خلک وو الله تعالی ته محبوب انسانان وو. ته وګوره ابراهیم علیه السلام اور ته ګذار شو، زکریا علیه السلام ذبح شو، ایوب علیه السلام داسې امتحان کې راغي چې اهل او مال یې ورک شول، یونس علیه السلام د ماهي خیټه کې بندي شو، یوسف علیه السلام په کمو پیسو وپلورل شو بیا بندي شو خو د دې هر څه سره سره دوی بیا هم راضی وو او خپل دعوت ته متوجه وو. بعضو سلفو به ویل چې (که زما جسم په قیچی باندې هم قیچی شي بیا به هم زه د الله تعالی په قضاء کې څه ونه وایم چې کاشکی نه وای شوي!). اې د دغې لارې لارویه! د دغو خلکو له جملې څخه ځان جوړ که د الله تعالی په قضاء کې کاشکي مه وایه په هر حالت شکر ګذار او صبر کوونکی اوسه الله ﷻ د خپلو مؤمنو بنده ګانو لپاره بهترین څه غوره کړي اګر که ظاهراً له سختیو او تکلیفونو څخه ډک وي؛ که څه هم ظاهرا مال، منصب، اهل، اولاد او حتی ټول ولاړ شي. د بدر واقعه کې فکر وکړه چې صحابه کرامو رض د قافلې قصد کړی وو خو هغه څه ته یې بوتلل چې د حق او باطل منځ کې یې فرق ورباندې وکړ او لوی

ketabton.com - The Digital Library

لوی کافران پکې ووژل شول. اې زما ديني ورورو! خپل ځان ورکړې ته تيار کړه هغه کاسه ځان لپاره تياره کړه کوم څه چې پکې وړلی شې او که دغه کاسه تياره نشې کړی بيا يوازې خپل ځان ملامت کړه اوبس.

## څنګه به په امتحان صبر کوې

اې د دغه لارې لارويه! خپل حالت او د هغو خلکو حالت ته چې د دنيا په ژوند کې مصروف دي فکر وکړه، هغه څوک چې د دنيا په ژوند کې مصروف دي  په تکليف، غم، قرضدارۍ او تاوانو کې وي او همدا شان په رنګارنګ مرضونو باندې ککړ وي. کافرانو ته وګوره چې د ډېرو تکليفونو څخه روزانه ځان وژنه کوي، له ژوند څخه تنګ دي خو د آخرت اميد هم نلري؛ ته وګوره ډېر وخت موټر ټکر شي د يوې کورنۍ ډېر غړي پکې زخميان، فلج او مړه شي همداسې رنګارنګ مصيبتونه پرې راشي. اې زما ديني ورورو! په تا باندې د رنګارنګ تکليفونو راتلل تا نه کمزوری کوي؛ خپله حوصله مه بايله قوي اوسه؛ دغه تکليفونه چې روزانه تا باندې راځي دا به  د دې سبب شي چې په دين کې دې  امام جوړ کړي ته پوهيږې کله چې الله تعالی  چاته اراده وکړي چې په دين کې يې امام کړي ضرور سختې ورځې او رنګارنګ امتحانونه پرې راولي چې قوي شي؛ ځکه سختې ورځې انسان قوي کوي او ديني امامت هم يو معنوي قوت ته ضرورت لري او همدا سختې ورځې تا ته په علم او مبارزه کې معرفت درکوي چې هغه په آسانۍ سره نه کېږي او يادې درجې د عابدينو، زاهدينو او خاشعينو مقام ته رسوي. ډېر ورونه د خپل علم او کمال حق

ketabton.com - The Digital Library

په سختیو کې ادا کولی او پیژندلي شي. له سختو ورځو څخه هغه څه زده کېږي چې هغه له کتابونو څخه نشي زده کېدلای، سخته ورځ هغه استاد ده چې انسان کمال ته رسوي دې سختو ورځو کې هغه معناګانې او مفهوم حاصلیږي چې په حفظ، تکرار او مطالعو سره نشي حاصلېدی، توکل، یقین، خشیة، توبه، رضا او ورته معناګانې دي. شیخ الاسلام ابن تیمیه رح څومره ښه ویلي: (انا جنتي وبستاني في صدري انی رحت فهي معي لاتفارقني ان حبسي خلوة وقتلي شهادة واخراجي من بلدي سیاحة).

ژباړه: (زما جنت او باغ زما په سینه کې دی ، که چیرته زه لاړ شم دا (نعمتونه) زما سره وی نه جدا کیږي ، زما بندی کیدل او خلوت (عبادت) دی ، زما وژل کیدل په دې لاره کې شهادت دی ، او له خپلې خاورې څخه زما شړل او ایستل زما لپاره سیر او سیاحت دی ،

اې د دغې لارې لارویه فکر وکړه کله چې سهار له خوب راپاڅې د شپې تېرېدل تا نه خپه کوي، کله چې ورځ تیره شي تېرېدل یې تا ته درد نه درکوي چې ضایع شوې به وي دا دلوی رب ﷻ په تا باندې څومره لوی انعام دی چې دغه ټولې لحظې دې عبادت کې حسابوي هغه چې هر چا څخه د ځواني او د عمر تېرېدلو پوښتنه کېږي؛ اما له تا څخه نه کېږي ځکه ستا خوب، خبرې، ناسته، ولاړه، خوراک او څښاک ټول عبادت دي دا باید ستا لپاره خوشحالي وي (یا الله ما له دغه سعادت څخه مه بې برخې کوه). زخمونه، هجرتونه، تهمتونه او زندانونه باید تا خپه نه کړي. خپل نفس ته خطاب وکړه! اې نفسه! دا هر څه د الله ﷻ لپاره دي. ډېر خلک د ګناهونو په خاطر هجرت کوي، زندان ته ځي او حتی اعدام

ketabton.com - The Digital Library

کېږي؛ هغه چې د نفس او خواهشاتو یو ساعت خوند راګیر کړي دومره تکلیفونو کې دي. ته دشکر سجده وکړه آیا دا شرافت ستا لپاره بس نه دی چې د دین لپاره هجرت کوې، زندان ته ځې دا لوي شرف ده دغه تکلیفونه ستا لپاره د نوي ژوند پیلامه ده هغه ژوند چې نتیجه یې جنتونه دي.

## ستا ثابت پاتې کېدل د دښمن مکر ماتوي

اې د دغې لارې لارویه! داسلام دښمنان همېشه د لیل میدان کې پاتي راغلي چې خپل باطل وریاندې ثابت کړي نو ځکه یې اهل حقو ته هر وخت رنګارنګ تکلیفونه او تعذیبونه ورکوي زندانونو ته یې کش کړي ځکه هم فرعون موسی علیه السلام ته وویل:( ﴿لَئِنِ ٱتَّخَذۡتَ إِلَٰهًا غَيۡرِي لَأَجۡعَلَنَّكَ مِنَ ٱلۡمَسۡجُونِينَ ٢٩﴾ [الشعراء: ٢٩] ) ژباړه : که ته له ما پرته بل معبود ونیسې نو زه به خامخا تا له بندیانو څخه وګرځوم .

او همداسې هغو ساحرانو ته چې ایمان یې راوړی و وویل: ﴿لَأُقَطِّعَنَّ أَيۡدِيَكُمۡ وَأَرۡجُلَكُم مِّنۡ خِلَٰفٖ ثُمَّ لَأُصَلِّبَنَّكُمۡ أَجۡمَعِينَ﴾ [الأعراف: ١٢٤]

ژباړه : او زه به خامخا ستاسو لاسونه او پښې د مخالف اړخونو څخه پرې کړم ، او بیا به مو ټول په دار وځړوم.

ketabton.com - The Digital Library

**همداسې د ابراهيم عليه السلام قوم د ابراهيم په حق کې وويل:(** ﴿قَالُواْ حَرِّقُوهُ وَٱنصُرُوٓاْ ءَالِهَتَكُمۡ﴾ [الأنبياء: ٦٨] **) ژباړه : هغه ( ابراهيم عليه السلام ) وسوزوئ او د خپلو معبودانو ملاتړ وکړئ .**

**همداسې يې د يوسف عليه السلام په حق کې وويل:(** ﴿لَيَسۡجُنُنَّهُۥ حَتَّىٰ حِينٖ﴾ [يوسف: ٣٥] **) ژباړه : چې خامخا به يې تر يوې مودې پورې بندي کړو .**

**همداسې عذابونه اميه بن خلف بلال بن رباح ته ورکړل چې د مکې په سخته ګرمي کې يي په سينه تيږې ورته ايښې وې خو هغه بيا هم احد احد نعرې وهلې همدا تکليفونه عمار، مصعب، خباب ابن مسعود، ابوبکر او حتى رسول ص ته ورکړل شوي.**

**اې زما ديني وروره! آيا تا د امام احمد بن حنبل، ابن تيميه او ابن قيم رحمهم الله ژوند نه دی مطالعه کړی، چې په هغوی څنګه حالات تېر شول؛ ته وګوره چې نن زمانه کې د دنيا کافرانو طاغدوتياتو د دين بلونکو مجاهدينو سره څه وکړل، زندانو ته وګوره چې اهل حق باندې څه تېرېږي او دا سلسله به تر قيامته پورې روانه وي ځکه دغه د اهل باطلو ځواب ده بل دليل او حجت نلري. دا د اسلام د دښمنانو آخري مکر او فريب دی همدا د خپلې ډيموکراسی، جمهوريت، سيکولرېزم او نورو باطلو اديانو او افکارو دفاع ګڼي. اې د دغې لارې لارويه! کله چې دغه ټول حالات درته ورسېدل او ته بيا هم په خپله لار کې ثابت پاتې شوې او صبر دې وکړ يقينا چې ستا ثابت والی د دوی د دسيسو شنډوالی ده، د دوی د**

ketabton.com - The Digital Library

مکر ماتول دي د دوی تدبیرونه بېرته دوی ته په مخ ور تپل دي، څکه ستا ثابت پاتې کېدل د اسلام کامیابي او د باطلو شکست او ناکامي ده.

## درد تلونکی او ثواب پاتې کېدونکی دی

اې د الله ﷻ د لارې لارویه! زر ده چې ډېره سختې او ستړیا به ووینې، بې شمیره امتحانونه به درباندې راشي خو ته د حق په لار تلونکی یې او د دین لپاره کار کوې؛ که په حق ثابت پاتې شوې په رنګارنګ امتحانونو دې صبر وکړ نو پوه شه چې دردونه تلونکې او ثواب یې پاتې کېدونکی دی، ان شاء الله. هغه چاته وګوره چې په سخته ګرمي کې روژه نیسي ډېر تږی وي خو چې کله ماښام شي د اوبو په اول غوړپ یې تنده ماته شي .

لکه نبي ﷺ چې فرمایلي دي:

«ذَهَبَ الظَّمَأُ، وَابْتَلَّتِ الْعُرُوقُ، وَثَبَتَ الْأَجْرُ إِنْ شَاءَ اللهُ.»

ژباره : تنده لاړه ، رګونه تازه شول ، او اجر حاصل شو که الله وغواړي.
«سنن أبي داود» (٢/ ٢٧٨ ط مع عون المعبود):

اې د دغه لارې ستړی لارویه! کله چې اول قدم جنت کې کېږدې ټوله ستړیا، تکلیف، درد او هغه زخمونه چې په دغه لار کې دې لیدلي پای به ومومي؛ د نیکبختۍ او خوشحالۍ د یو نوي ژوند پیل به وشي لکه د هغه روژه دار چې ماښام کې تنده ماته شي. له تا به پوښتنه وشي چې کوم

ketabton.com - The Digital Library

تکلیف درته رسیدلی ته به ووایې: (والله یا رب ما رأیت بؤسا قط) ژباړه : په قسم ای ربه ، ما هیڅکله بد بختي نه ده لیدلې .

د رب تعالی په فضل او نعمتونو به ونازول شې هغه نعمتونه به ووینې چې نه سترګو لیدلي وي، نه غوږونو اوریدلي وي او نه دچا په زړه کې تېر شوي وي. بیا به تمنا کوې چې کاش په دین کې ډېر سترې شوی وی، ډېر تکلیف مې لیدلی وای، کاشکې مې وجود ایره ایره شوی وای، کاشکې مې د وجود غوښې په قیچې پرې شوې وای او داسې ډېرې تمناوې به کوې. لکه هغه شهید چې تمنا کوي چې کاشکې لس ځلې ژوندی شوی او لس ځلې بیا په دین قرباني شوی وای. کله چې دا شهید هغه نعمتونه ووینې کوم چې الله ﷻ د شهیدانو لپاره تیار کړي.

اې زما دیني وروره تکلیف ته ځان کلک کړه له چا څخه ګیلې مکوه، له چا څخه د خپګان اظهار مکوه ته خاص د الله تعالی لپاره لګیا یې نو خپل درد او راز یوازې هغه ته وړاندې کوه او عوض یې په آخرت کې غواړه نه په دې تېرېدونکې او دوه ورځو دنیا کې.

## د جهاد مینه!!!

هغه مینه ده چې ډېر عاشقان یې ځان پسې ورک کړل، هغه مینه ده چې پای یې شهادت دی، هغه مینه چې خپل عاشق ځان پسې داسې تږی کړي چې دنیا کې یې په هیڅ شي تنده نه‌ماتېږي. داسې لوږه ده چې غذا یې یوازې په سنګر، جنګ او د مرمیو بارانونو کې ده او په بل څه باندې نه مړېږي، داسې مینه چې آرام ژوند درنه اخلي همیشه تکلیف، ستړیا،

ketabton.com - The Digital Library

سفرونه او په تڼاکو پښو مزلونه دي، هغه چې ته دې هغوی په مرګ پسې او هغوی ستا مرګ پسې ګرځي. هغه وخت کې آرام درکوي کله چې د شهادت په خوب ویده شې او د جهاد نتیجه تر لاسه کړې. د جهاد مینه پایښت نلري په کولو سره یې نوره هم زیاتیږي دا داسې مینه ده چې دنیا او هغه څه چې دنیا کې دي ورته سپک او ساده ښکاري؛ د دنیا کارونو کې مصروف خلک ورته لیوني او ساده ښکاري، هغه څه ته د ژوند نوم نه ورکوي په کوم څه کې چې د دنیا خلک مصروف دي؛ بلکې ژوند هغه څه ته وايي چې همیشه په کافرانو او د هغوی د منافقو ملګرو په ښکار کولو پسې لکه وږی زمری ګرځې. ټوپک، چانټه او د جهاد نور وسایل دې د خپل ځان لپاره د عزت تاج ګرځولي وي او ځان ته دې یوه بادشاهي جوړه کړې وي او بیا په دې لټه کې وې چې دغه بادشاهي د الله ج د دین لپاره قربان کړې؛ بس دا د مجاهد مینه او ژوند وي.

## لیونتوب که هوښیارتوب!!!

ورونړو!

کله چې د الله ج یو مؤمن بنده د خپل ژوند په حقیقت پوه شي د هغه څه لپاره چې الله ج ژوند ورکړی باید هغه وکړي؛ نو ضرور به هجرتونه کوي د الله په ځمکه کې به ګرځي، د صحابه کرامو رض په منهج به قدم ږدي، د هغو سترې لار به تعقیبوي، د هغو په څېر به شپني مزلونه کوي؛ دا مزل به کله غرونو، کله صحراګانو او کله به هم د سمندرونو په سر وي. د ژوند حقیقت پېژندل انسان له ژونده ورکوي، د ژوند حقیقت پېژندل څوک له ژونده بیلوي. د الله ج د دین لپاره هجرتونه او سفرونه کول د

ketabton.com - The Digital Library

نوي ژوند پیلامه وي، هغه داسې ژوند وي چې د دنیا خلک وریاندې نه پوهېږي. بلکه هغه ته سادګي او لیونتوب وایي. ریښتیا هم یو ځوان چې د ځواني په رنګینیو کې ډوب وي له خپلې کورنۍ سره خوشحاله ژوند کوي دا ځوان خوشحاله ژوند او رنګیني پرېږدي له خپلې کورنۍ خپلوانو او له ملګرو سره د سوکالي ژوند ته د پای ټکی کېږدي؛ دا ټول خلک خپه کړي لرې وطنونو، غرونو او ځنګلونو ته لاړ شي ریښتیا هم دا لیونتوب ده.

کله چې یو طالب او محصل بی درده او بی تکلیفه ژوند کوي داسې ژوند کوي چې هرڅوک یې ناز په غاړه اخلي د عزت په سترګه ورته کتل کېږي د خپلې کورنۍ، ملګرو او استاذانو سره خوشحاله او سوکاله ژوند تېروي او په راتلونکې کې ډېر امیدونه وریورې تړاو لري خو له دې ټولو سره سره له مدرسې، مکتب او پوهنتون سره خدای پاماني وکړي ځنګلي او غرني ژوند ته مخه کړي چې له ټولو نازونو څخه محروم شي. هو بلکل دا لیونتوب ده . یو عالم او استاد چې په ټوله جامعه کې قدرمن وي هغه چې د هرچا مینه وریورې تړلې وي د خپلې کورنۍ والدینو او ملګرو لپاره ویاړ وي؛ هغه چې د خپلو شاګردانو لپاره د پلار په شان د سترګو یخوالی وي، هغه چې د خپلو مقتدیانو لپاره لکه د کورنۍ د مشر په شان تکیه ګاه وي، هغه چې خپل ژوند کې ځانته یو د بادشاهي ژوند لري خو بیا هم د ژوند دغو ټولو ښکلاوو ته د پای ټکی کېږدي یو نوی ژوند پیل کړي؛ داسې ژوند چې هر څوک خپلې اړیکې ترې کاټ کړي د عالم پر ځای یې په نورو نومونو ونوموي، خپله کورنۍ ترې خپه شي، هغه نازولي چې د چاي پیاله هم خپله ځانته نه ډکوي داسې ژوند غوره کړي چې بې له

ketabton.com - The Digital Library

ستونزو، احتیاجونو، تکلیفونو او سترپیاوو نور هېڅ نشي لیدلی، هغه نازولي بیا له ټولو انسانانو مایوسه شي، له ملګرتیا یې خلک تېښته کوي، غم او درد ور پورې وتړل شي. هغه چې په غوړونو کې یې تل د مظلوم غږونه ورځي، هغه چې تل د امت په درد ځورېږي. هو بلکل دا لیونتوب ده؛ خو داسې لیونتوب چې د دنیا هوښیاران نه وربانديې پوهېږي هغوی د دې لیونتوب په حقیقت نه پوهېږي دا لیونتوب د انبیاء علیهم السلام سنت دی، دا لیونتوب د صحابه کرامو رض منهج دی، دا لیونتوب الله ج ته درسېدلو لار ده، دا لیونتوب د امت د حق ادا کولو لار ده، دا هغه لیونتوب دی چې لاره یې مستقیمه جنت ته تللې او د ابدي کامیابۍ تر لاسه کولو لپاره بهترینه وسیله ده.

اې د دنیا هوښیارانو تاسو غلط شوي یاست دا لیونتوب حقیقي هوښیاري ده او هغه څه ته چې تاسې هوښیارتوب وایئ، حقیقي لیونتوب دی. دوي لیوني نه بلکې تاسو لیوني یاست!.

## فراغت ته مه ګوره

اسلام ته کار کول عبث او له مقصود څخه بیل شی نه دي تر هغه پورې یې مه ځنډوه چې وظیفې، مدرسې، تجارت او نورو کارونو څخه فارغ شې او بیا کار شروع کړې؛ بلکې اسلام ته کار کول له ټولو کارونو اول او مقصود دی، انتظار مه کړه چې واده وکړې، یا هم سند واخلې، یا ورته له نورو کارو څخه فارغ شې. نه اسلام دا نغواړي او نه هم داسې دي اسلام

ketabton.com - The Digital Library

**ته کار کول عبادت دی او عبادت خاص وخت نغواړي** ﴿وَٱعۡبُدۡ رَبَّكَ حَتَّىٰ يَأۡتِيَكَ ٱلۡيَقِينُ﴾ [الحجر: ۹۹]

**ژباړه : د خپل رب عبادت کړه ، تر هغه پورې چې مرګ درشي .**

**قرآن داسې نه دي ويلي چې عبادت وکړئ کله چې له مدرسې او يا هم پوهنتون څخه فارغ او يا مو ودونه وکړل او يا مو د ژوند ټول کارونه پوره شول؛ دغه عبادت ستا وظيفه ده څو پورې چې ژوندی يې دغه کار کې به لګيا يې. دا هغه حقيقت دی چې زموږ اسلاف رحمهم الله ور باندې پوه وو ځکه هم عمار بن ياسر په نوي ۹۰ کلنۍ کې قتال کاوه؛ نه يوازې دعوت او تدريس بلکې عملي قتال. دا هغه عمر ده چې ويښتان سپينېږي، وجود کمزوری کېږي، د بدن قوت ختمېږي. همداسې رسول الله صلی الله عليه وسلم په ۲۷ غزاګانو کې برخه اخيستې وه، چې عمر يې له خلور پنځوس ۵۴ کلنۍ څخه اوښتی و، رسول الله صلی الله عليه وسلم له شپېته کلنۍ هاخوا د تبوک غزا کې برخه اخيستې وه هغه غزا چې تر ټولو سخته وه. زموږ ډېر ورونه چې کله د مدرسې او پوهنتون سند تر لاسه کړي او يا هم په وظيفه او تجارت باندې مصروف شي بيا اسلامي بلنه پرېږدي او د خپل شخصي ژوند لپاره کار کوي د قتال ميدان ته خو بيخي نه ځي. آيا له رسول ص او صحابه کرامو څخه مهم دی؟. ستاسو هغه وعدې مو چې کړې وې څه شولې(وکان عهد الله مسؤلا) ژباړه : يعنې انسانان به د الله د عهد او ژمنو په اړه مسؤل وي ، او الله تعالی به د هغو پوښنته کوي .**

ketabton.com - The Digital Library

يوازې د حجرو مجلسونه کفايت نکوي او نه هم يوازې جهادي ترانې چې د تليفون زنګونو ته مو اېښې وي، يوازې د جهاد منظرې او ويډيوګانې کتل فايده نلري؛ په دغو شيانو باندې ښځې خپله جهادي تنده ماتوي د ځوانانو کار دا نه ده. زه وايم هغه څوک چې په حقيقت باندې پوه شي خو بيا هم په دين کې سستي او بې زړه توب کوي او عملي کار نکوي دا د ايمان کمزوري ده. د دې عاقبت د عوامو څخه هم بد ده هغه چې حق ويني او بيا هم د دنيا دوه ورځې ژوند يا د منصب او شهرت لپاره مخ ترې ګرځوي د خواهشاتو له زندان څخه نشي آزادېدلی يقينا چې له ناکامۍ سره مخ دي د دنيا ژوند تلونکی او د آخرت ژوند پاتې کېدونکی ده. الله دې په داسې خلکو رحم وکړي(نعوذ بالله من ذالک).

اې زما ديني وروره! آيا د هغو سلګونو بلکې زرګونو ځوانانو مينه او شوق نه ګورې چې استشهاد ته په کلونو کلونو انتظار کوي او له الله تعالی څخه په سلګيو او زاريو د باروتي موټر غوښتنه کوي چې تر څو خپل نازولی وجود د الله ﷻ د دين لپاره ذره ذره کړي؛ دا څه عجيبه خوند دی، دا څه عجيبه مينه ده. آيا هغه ځوانان نه ګورې چې د خپل ژوند رنګينې، وظيفې، پوهنتون، مدرسې، والدينو او خپل کور ته شا کړي او داسي ژوند ته لاړ شي چې بې له غرونو، مزلونو او ستړياوو نور څه نهويني او هره لحظه له مرګ سره مخ وي بيا هم ډېر په شوق ورځي او خپله ځواني په دغو سختيو ماتوي. هوکې دغو مؤمنو ځوانانو هغه خوند ليدلی کوم خوند چې مصعب بن عمير ليدلی و دوی په هغه عشق پوه دي د کوم عشق حقيقت ته چې صهيب رسيدلی و. د دغو ځوانانو ډېر داسې

ketabton.com - The Digital Library

مثالونه شته چې له چا څخه پټ نه دي او زه نغواړم چې ليکنه اوږده شي خو دا لوی سعادت ده چې چاته الله ﷻ ورکړ ورته مبارک دې وي اې زما ديني وروره!.

## ای د الله تعالی د لار لارويه تا ته سترګې په لار يو !

اې د دغې لارې لارويه! موږ تاته انتظار يو چې څه وخت به د الله تعالی په نصرت نړۍ ته ماته ورکوې نن داقصی منارې تا ته انتظار دي، د قرطبې او غرناطې سترګې ستا په لور پاتې دي، نن د هند لوی مسجدونه ستا امامت ته ضرورت لري، تا ته د کفري نړۍ له زندانونو څخه د وامعتصما آوازونه کېږي؛ ته د نن زمانې مرتدينو ته ابوبکر يې، ته د نن ورځې يرموک ته خالد بن وليد يې، ته د نن وخت قادسيې ته سعد شه، اوسنۍ قسطنطينيې ته مُحَمَّد الفاتح شه، ته شيندلي او ټوک ټوک امت ته د داسې خلافت غېږه خلاصه کړه چې د قوميت او وطنيت امتياز پکې نه وي او يوازينی توپير په تقوی سره وشي. ته نړۍ له شرق څخه تر غربه ټوله له عدل څخه ډکه کړه، ته د امت زخمونو ته ملهم شه. د اسلام نصرت هغه څه دی چې د ټول امت د سترګو يخوالی ور پورې تړلی، د اسلام نصرت په دنيا کې لويه حسنه ده، دا قول ده: ﴿رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِي ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗ وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِ حَسَنَةٗ وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ﴾ [البقرة: ٢٠١]

ژباړه : ای زموږ ربه ! موږ ته په دنيا کې نيکمرغي راکړه ، او په آخرت کې هم نيکمرغي راکړه ، او موږ د دوزخ له اور او عذاب نه وژغوره .

ketabton.com - The Digital Library

حسنه يې صالحه ميرمن نه بلکې داسلام نصرت ده ځکه د اسلام نصرت غمونه لرې کوي، امت ته سکون ورکوي، د انسانانو ژوند هوسا کوي. امت د اسلام نصرت ته ډېر په شوق کې دی حتی د مور، پلار، اهل او کورنۍ په بدل کې هغه نصرت چې د پيړيو را هيسې ترې محروم دی؛ دغه امت ته خوشحالي ورکړه آواز ته يې لبيک ووايه

که دغه قوي وسله له ځان څخه لرې کړې او استعمال يې نکړې نو په تا به هغه دښمنان حمله وکړي چې يوه لحظه هم تاڅخه نه لرې کېږي. هغه څلور دښمنان چې تاسره ريښتيني دښمني کوي او همېشه تا ته کمين کې وي:(نفس، شيطان، دنيا او خواهشات) دي. نفس هغه دښمن دی چې تل ستا سره په عناد کې دی، شيطان هغه دښمن دی چې تل تا ته وسوسه دراچوي، نفس او خواهشات ډېر وختونه غالب ګرځي او دا هغه څه دي چې د تل لپاره تا ته په کمين کې وي او يوه لحظه هم نه در څخه لرې کېږي. که دوی غالب شول تا وبايلله، دوی وګټله  او ته ناکام شوې او که ته غالب شوې تا وګټله دوی وبايلله ته کامياب او دوی ناکام شول خو د دغې لويې کامياب راز د الله ﷻ په اطاعت نېکو اعمالو او په پوره معنا شريعت ته په غاړه اېښودلو کې دی.

اې زما ديني وروره! لوی او ويښ دښمن کلکه او قوي وسله غواړي او ستا وسله په دين منګولې لګول دي کلکې يې کړه چې درنه خطاء نشي: دا الفاظ نه بلکې يو مفهوم دی چې بايد پاملرنه ورته وکړې!.

ketabton.com - The Digital Library

# دویـــــم فصل

## هجرت لویه قرباني ده!

### هجرت او جهاد؛ نبوي منهج او د صحابه وو رضی الله تعالی عنهم تګلاره ده.

هجرت د دنیا په هر څه باندې لویه قرباني ده، دا د عقیدې په بدل کې د تجارت کولو معنا لري او عقیده له اهل او مال څخه هم لوړه ده. هغه کسان چې د جهاد مبارکې خاورې ته هجرت کوي، اعلان کوي چې عقیده مو له اهل او مال څخه ډېره ارزښتناکه ده او هغه شریعت چې موږ د هغه لپاره ژوند کوو، له هر هغه قیمتي شي څخه چې د ځمکې پر مخ شته، لوړ او قیمتي دی. هجرت اعلان دی چې د عقیدې نسب له کورني نسب څخه ډېر لوی دی. دا اعلان دی چې د دین نسب د خپلوانو له نسبي اړیکو څخه ډېر لوړ دی. دا اعلان دی چې هغه د عقیدې ورور چې د دین په لاره کې وي، له هغه ورور څخه ډېر عزتمند دی چې زما له مور څخه زېږېدلی وي. هجرت د نوی پلار، مور او ورونو غوره کول او د نوې کورنۍ انتخاب دی. هغه جماعت چې زه پکې یم، زما کورنۍ ده؛ د دوی مشر مې پلار دی او کوچنیان یې زما ورونه دي. هجرت اعلان دی چې

ketabton.com - The Digital Library

هغه ځمکه چې د الله ﷻ دين پکې نافذ وي، له هغه ځايه ډېره لويه ده چې زه پکې زېږېدلی يم. دا اعلان دی چې زموږ جنس، عقيده او دين دی. د تور او سپين، د سور او شين، د عربي او عجمي توپيرونه جواز نه لري؛ ځکه توپير يوازې د تقوا په اساس دی. هجرت اعلان دی چې زما دولت عقيده ده او هغه ځای چې د الله ﷻ دين پکې نافذيږي، زما لپاره تر هر ځای غوره دی. برعکس، چېرته چې طاغوت واکمن وي که څه هم هغه ځای زما خپل ښار، کلی يا د خپلوانو سيمه وي. هجرت د جهاد له بنسټيزو ضرورياتو څخه دی، ځکه دا د قربانۍ نښه ده. د کور، اهل، مال، دوستانو، وظيفې او مدرسې پرېښودل او د جهاد لپاره لرې وطن ته تلل، يقيناً ستره قرباني ده. دا قرباني ښيي چې ته د جهاد ميدان ته په رېښتينې توګه چمتو يې. هغه کسان چې هجرت نه کوي، خامخا له يوې دنيوي اړيکې سره تړاو لري، لکه مال، اهل، وظيفه، زراعت، مدرسه او داسې نور. يا په زړونو کې دا ډار لري چې که هجرت وکړي داسې کور، اهل، مال، وظيفه، مدرسه يا کار به بيا پيدا نه کړي. خو الله ﷻ دغه ټولې دنيوي اړيکې يوه طرف ته ايښې او جهاد بل طرف ته، خو بيا هم دا اړيکې له جهاد سره برابرې نه دي.

الله ﷻ فرمايلي دي: ﴿قُلْ إِن كَانَ ءَابَآؤُكُمْ وَأَبْنَآؤُكُمْ وَإِخْوَٰنُكُمْ وَأَزْوَٰجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَٰلٌ ٱقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَٰرَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ أَحَبَّ إِلَيْكُم مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَجِهَادٍ فِى سَبِيلِهِۦ فَتَرَبَّصُوا۟ حَتَّىٰ يَأْتِىَ ٱللَّهُ بِأَمْرِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْفَٰسِقِينَ﴾ [التوبة: ٢٤]

ketabton.com - The Digital Library

**«اې پیغمبره ﷺ ورته ووایه: که چېرې ستاسو پلرونه، زامن، ورونه، ښځې، خپلوان، هغه مالونه چې ګټلي مو دي، هغه تجارت چې د هغه په ورانېدو اندېښمن کېږئ او هغه کورونه چې په هغو خوښ یاست، تاسو ته د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ په لار کې له جهاد څخه ګران وي، نو انتظار وباسئ تر دې پورې چې الله ﷻ خپله پرېکړه ستاسې مخې ته راولي او الله ﷻ فاسقانو ته لاره نه ښايي.»**

## د مؤمن صفات

**مؤمن باید له دریو حالتونو څخه خالي نه وي:**

**۱. مجاهد به وي**

**۲. مهاجر به وي**

**۳. انصار به وي**

**دا وېش اسلامي شریعت کړی دی او د هر مؤمن لپاره اړینه ده چې له دې دریو قسمونو څخه یو انتخاب کړي. که یو مؤمن له دغو دریو حالتونو څخه پرته په بل څه بوخت وي، په هغه کې د کمال صفت نه پیدا کېږي.**

**جهاد، هجرت او نصرت هغه اسباب دي چې اسلامي امت د نبوت، خلفای راشدینو او صحابه کرامو له زماني څخه را نېولې تر نیمې پېړۍ پورې د نړۍ ګوټ ګوټ ته د اسلام د رسولو او حکومت کولو توان ورکړ، علت یې دا وو چې دوی دا درې صفات په خپلو ځانونو کې پیدا کړي وو.**

ketabton.com - The Digital Library

که په نني عصر کې هم اسلامي امت دا صفات په ځان کې را ژوندي کړي، الله ﷻ به حتما د دې امت تېر وياړونه بېرته ورګرځوي.

هجرت هغه څه دی چې د اسلام ډېوه وړياندې روښانه کېږي او مسلمانه ټولنه پرې خپل حقيقي اسلام پېژني. هجرت خلک خپل هدف ته رسوي او د هدايت په لاره يې برابروي، ځکه چې دا د رسول الله ﷺ ، خلفای راشدينو، صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم او د اسلامي امت د اسلافو لار ده.د عثماني خلافت له ړنګېدو وروسته اسلامي امت د زوال ژورې کندې ته ولوېد، اوس له دغې سختې او خطرناکې کندې څخه د راوتلو په حال کې دی او ورځ تر بلې خپل تېر برم ته ور نږدې کېږي. دا د هغو مهاجرينو د برکت پايله ده چې خپل کورونه، مالونه او خوږ ژوند يې پرېښود او د الله ﷻ د رضا لپاره يې د هجرت لار غوره کړه. دوی د نوي نړيوال جهاد لپاره مقدمه کېښوده او مؤمنو انصارو يې په مېړانه ملاتړ وکړ. د مهاجرينو او انصارو د يو ځای کېدو په برکت، الله ﷻ د کفر لوی مرکزونه ـ لکه پنټاګون او کفري نړيوال تجارتي برجونه ـ ونړول. دې پېښو اسلامي امت راويښ کړ، وطني او قومي فکرونه يې له منځه يوړل او امت يې يو نوي پړاو ته داخل کړ. دا داسې پړاو دی چې له عثماني خلافت څخه وروسته د اسلامي امت د بچيانو لپاره د تصور وړ نه و خو د مهاجرينو د هجرت او د انصارو د نصرت په پايله کې، مسلمانانو يو ځل بيا نړيوال کفري ښامار ته لاس واچاو او د هغه ګريوان يې ونيو.

دا ټول د هجرت او نصرت د عظيمو صفاتو برکت دی چې د اسلامي امت د بقا او وياړ تظمين کوي.

ketabton.com - The Digital Library

## اسلامي تاريخ او هجرت

**ولې زموږ اسلامي تاريخ د هجرت له کال څخه پيل شو؟**

يو سالم عقل لرونکی انسان که په دې مسئله کې فکر وکړي، خامخا به يوې ژورې پايلې ته ورسېږي. زموږ د اسلامي تاريخ په اوږدو کې ډېر لوی او مهم واقعات تېر شوي دي، لکه د رسول الله ﷺ پيدايښت، بعثت، هجرت، وفات او نورې مهمې پېښې. سره له دې ټولو اسلامي تاريخ د هجرت له کال څخه پيل شو. دا پرېکړه د عمر فاروق رضی الله تعالی عنه او نورو سترو صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم لخوا وشوه، چې هجرت ته يې لومړيتوب ورکړ.

## د هجرت د انتخاب تاريخي شاليد

امام بخاري رحمه الله د سهل بن سعد رضی الله تعالی عنه څخه روايت کړی:

[مَا عَدُّوا من مَبْعَثِ النبی ﷺ، ولا من وفاته، ما عَدُّوا ألا من مَقْدَمِهِ المدينةَ، يعنی من الهجرة] (البداية والنهاية)

ژباړه: «هغوی د رسول الله ﷺ له بعثت څخه تاريخ ونه نيو او نه يې له وفات څخه حساب کړ؛ بلکې يوازې يې د هغه د مدينې ته له راتګ، يعنې هجرت څخه تاريخ پيل کړ.»

ketabton.com - The Digital Library

امام طبري رحمه الله ليکلي چې عمر فاروق رضی الله تعالی عنه خلکو ته وويل چې تر څو د اسلامي تاريخ د پيل په اړه مشوره وکړي. ځينو وويل چې تاريخ دې د بعثت له کال څخه پيل شي او ځينو بيا د هجرت له کال څخه وړانديز وکړ. عمر رضی الله تعالی عنه وويل:

[نُؤَرِّخُ لِهِجْرَةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ، فَأَنَّ هِجْرَتَهُ فَرَّقَتْ بَيْنَ الْحَقِّ وَالْبَاطِلِ] (البداية والنهاية)

ژباړه: «موږ د رسول الله ﷺ د هجرت پر بنسټ تاريخ ټاکو، ځکه چې د هغه هجرت د حق او باطل ترمنځ ښکاره توپير راوست.»

د دې پرېکړې په ترځ کې ټولو صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم اتفاق وکړ چې تاريخ به د هجرت له کال څخه پيل کېږي.

## د هجرت د تاريخ د پيل راز

هجرت د اسلامي تاريخ لپاره ځکه غوره شو چې دا هغه کال و چې:

١. اسلام ته عزت ورکړل شو: د هجرت په کال کې اسلام له ضعف څخه ځواک ته، او له ځورونې څخه ازادۍ ته واوښت.

٢. د اسلامي دولت بنسټ کېښودل شو: هجرت د يو قوي اسلامي دولت د بنسټ ډبره وه چې د الله ﷻ د دين په اصولو ولاړ و.

٣. مسجد تاسيس شو: په همدې کال کې د مسجد نبوي بنياد کېښودل شو، چې د اسلامي تمدن د روحانيت او دنيوي نظام مرکز و.

ketabton.com - The Digital Library

۴. امنیت او عبادت: مسلمانانو په مدینه منوره کې په امن سره د الله تعالی عبادت پیل کړ.

۵. حق او باطل بېل شول: هجرت هغه پېښه وه چې د حق او باطل، ایمان او کفر، سپین او تور تر منځ یې واضحه کرښه راښکاره کړه.

## د هجرت په کال کې د اسلامي امت بریا

دا هغه کال و چې د الله تعالی دین ته ځواک ورکړل شو. مسلمانانو د ځمکې پر مخ د الله تعالی احکام نافذ کړل او په دې توګه د شرک واکمني له منځه ولاړه. د تېرو او ډېرو عبادت ورو ورو ختمېده او د توحید پیغام هر ځای خپرېده.

د هجرت کال د انسانیت لپاره د خوشالۍ زېری و، چې د الله تعالی دین به ټولو مسلمانانو ته ورسېږي. له همدې کبله هجرت د اسلامي تاریخ د پیل لپاره غوره شو، ځکه چې دا د مسلمانانو لپاره د آزادۍ، واکمنۍ او د الله تعالی د دین د احکامو د تطبیق د پیل کال و.

## د هجرت نه کولو علتونه

که موږ په اوس وخت کې فکر وکړو، نو ډېرو مهمو نقطو ته به ورسیږو:

ketabton.com - The Digital Library

**۱. ډېر مسلمانان د کفر، شرک، سیکولریزم او دیموکراسۍ له ځمکو څخه هجرت نه کوي:**

**ډېر مسلمانان په اوس وخت کې د هجرت نه کولو لامل د خپلو دنیوي اړیکو، ژوندانه او شته امکاناتو سره تړلي ګڼي. ځینې خلک دې ته بې پروا دي چې په هغو ځمکو کې چې دوی ژوند کوي، د الله تعالی حدود نه تطبیق کېږي، بلکې داسې نظریات او حکومتي سیستمونه رائج دي چې له اسلام سره متناقض دي.**

**۲.کافر او مرتد حکومتونه مسلمانانو ته د هجرت اجازه نه ورکوي:**

**کله چې یو مسلمان د هجرت اراده وکړي، کافر حکومتونه هغه ته د هجرت اجازه نه ورکوي. بلکې مسلمانانو ته عذاب ورکوي، هغوی زندان ته اچوي یا یې تهدید کوي چې که هجرت وکړي وبه وژل شي. د دې علت دا دی چې کافر حکومتونه پوهېږي چې هجرت د کفري نړۍ لپاره خطرناک دی، ځکه چې د هجرت په ترڅ کې مسلمانان د الله تعالی د شریعت پر اساس له یو بل سره متحد کېږي چې دا د کافرانو واکمنۍ ته تهدید دی.**

**۳.د هجرت سره تړلي تحریفات او غلط فهمۍ:**

**ځینې علماء او صوفیان د هجرت په اړه غلط تفسیرات ورکوي دوی په اصل کې ځانونه د دین داعیان بولي خو د هجرت مفهوم تحریف کوي او داسې ادعا کوي چې (له مکې وروسته هجرت نه دی واجب)، خو**

ketabton.com - The Digital Library

حقیقت دا دی چې دا حدیث د مکې له فتحې وروسته د هجرت نه واجب والي په اړه دی، نه دا چې په ټوله کې هجرت بند کړي. دې تحریفاتو په مسلمانه ټولنه کې اغېز کړی دی او ځینې خلک د هجرت ضرورت نه مني، په داسې حال کې چې په کفر او فسق کې ژوند کول لویه ګناه ده.

## ۴.د صلیبي تړون اغېزې:

صلیبي تړون د هجرت منع کولو لپاره جوړ شوی دی. د دې تړون له مخې حکومتونه د مسلمانانو په هجرت باندې بندیز لګوي، ځکه هجرت د شریعت د قوانینو د نافذ کېدو سبب کېږي. په حقیقت کې د هجرت نه کولو لپاره په دې تړون کې ځینې غلط فهمۍ ځای پر ځای شوې دي، چې د مسلمانانو د حرکت او یووالي مخه نیسي.

## ۵.د اسلامي امت تقسیم:

د کافرو حکومتونو پلان دا دی چې مسلمانان په ژبو، ملتونو او وطنونو تقسیم کړي، تر څو د هغوی خپلواکي او یووالی مات کړي. که چېرته مسلمانان هجرت وکړي او یو ځای شي، نو دا یووالی د مسلمانانو لپاره د قوت سرچینه کېږي او د کافرانو لپاره یو تهدید ګرځي. د هجرت له لارې ټول امت د مهاجرینو او انصارو په شکل سره یو ځای کېږي او د دې په پایله کې د ژبو، قومونو او وطنونو تر منځ موجود توپیرونه له منځه ځي.

ketabton.com - The Digital Library

## ۶.د چین او نورو کفري حکومتونو ظلمونه:

چینايي حکومت د اویغور د مسلمانانو سره بې رحمانه چلند کوي، هغوی ځوروي، په زندانونو کې یې اچوي او حتی وژني یې. دا ظلمونه د نورو مسلمانانو لپاره عبرت کېږي، چې هجرت ته زړه ښه نه کړي. دوی ته د مرګ یا سخت تعذیب ګواښونه ورکول کېږي، تر څو د هجرت د ارادې مخه یې ونیسي.

د دې ټولو عواملو له امله ډېری مسلمانان د هجرت پرېکړه نه کوي او دغه ظلمونه، فشارونه او غلط فهمۍ د هجرت پر لاره خنډونه جوړوي.

## په اسلام کې د هجرت اهمیت

د هجرت اهمیت په اسلام کې ډېر زیات دی، ځکه چې ځینې مهم اسلامي احکام لکه جهاد، د شریعت اقامه، دین خپرول او داسې نور، پرته له هجرته تر لاسه کېدلی نه شي. رسول الله ﷺ ځمکه، کور او خپلوان پرېښودل او مهاجر شو. ډېرو صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم خپل کورونه، باغونه او کښت ځمکې پرېښودې او د رسول الله ﷺ سره یې هجرت وکړ. که هجرت په اسلام کې مهم نه وای، نو رسول الله ﷺ ولې هغه ځمکه پرېښوده چې په هغې کې بیت الله شریفه وه؛ هغه ځمکه چې الله ﷻ په هغې کې برکت ایښی وو او هغه ځمکه چې د حیواناتو لپاره هم امن وه.

ketabton.com - The Digital Library

په دې ټولو شرائطو کې رسول الله ﷺ دغه ځمکه پرېښوده، ځکه چې هدف یې یوازې په مکه کې په امن اوسېدل او عبادت نه و، بلکې د شرک بیرغ ختمول او د توحید بیرغ رپول وو چې دا ټولې لاسته راوړنې د هجرت په وسیله ممکنې شوې.

## اوس وخت

په ننۍ زمانه کې موږ وینو چې ډېر ځوانان د دې پر ځای چې اسلامي ځمکو ته یا د جهاد ځمکو ته هجرت وکړي، په مخالف لوري روان دي. ډېری ځوانان هڅه کوي چې د اسلامي ځمکو څخه صلیبي ځمکو ته هجرت وکړي، چې په دې لاره کې په ځینو وختونو کې د سختو مشکلاتو، لوږې، تندې او حتی له مرګ سره مخ کېږي. دوی په میاشتو میاشتو سفرونه کوي او خپلې ټولې وسیلې مصرفوي، تر څو د صلیبیانو ځمکو ته ورسېږي. حیرانوونکې خبره دا ده چې د دوی کورنۍ په ډېر ویاړ سره دغه سفرونه یادوي، د جومات له امام څخه دعا غواړي او خیراتونه کوي چې دا پخپله یوه ستره فتنه ده چې په مسلمانه ټولنه کې خوره شوې ده.

سره له دې چې په ننۍ زمانه کې له صلیبي هیوادونو څخه هجرت کول نه یوازې واجب بلکې محکم واجب ګڼل کېږي، ځکه چې نه کول یې د مسلمانانو د ګڼو مشکلاتو سبب ګرځي.

ketabton.com - The Digital Library

## هجرت، ولاء او براء

الله تعالى هجرت ته د ولاء او براء په عقيدې سره تړاو ورکړی دی، لکه څنګه چې فرمايي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَهَاجَرُوا۟ وَجَٰهَدُوا۟ بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلَّذِينَ ءَاوَوا۟ وَّنَصَرُوٓا۟ أُو۟لَٰٓئِكَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ﴾ [الأنفال: ٧٢]

«کومو خلکو چې ايمان راوړ، هجرت يې وکړ، د الله تعالى په لاره کې يې په خپل مال او ځان سره جهاد وکړ او کومو خلکو چې مهاجرينو ته ځای ورکړ او له هغو سره يې مرسته وکړه، همغوی په اصل کې يو د بل ملګري دي.»

امام طبري رحمه الله وايي: دا دواړه ډلې، يعنې مهاجرين او انصار د يو بل مرسته او ملاتړ کوي، پرته له نورو مشرکينو څخه. دوی د کفارو په وړاندې يو لاس دي او په خپلو منځونو کې داسې ورورولي لري چې حتی له نسبي ورورولۍ څخه هم ټينګه ده.

## د نن زمانې ستونزې په هجرت کې

هغه ورونه چې د الله تعالى په لار کې هجرت کوي، په لارو کې له ډول ډول سختيو او تکليفونو سره مخ کيږي. ډيری وخت دوی په لارو کې شهيدان کيږي، بېلګه يې د اويغور د مسلمانانو حالت دی. کله چې دوی

ketabton.com - The Digital Library

هجرت کوي، د پاسپورټ او ویزې د نشتون له امله په پټه مجبوره وي چې د ځو هېوادونو له لارې سفر وکړي. دا سفرونه کلونه کلونه وخت نیسي او د خطرونو ډک وي. ډېری یې په نورو هېوادونو کې نیول کېږي او چینایي ظالمانو ته سپارل کېږي. په دې خطرونو کې داسې پیښې شوې دي چې خلک له خپلو ماشومانو او ښځو سره ورک شوي دي، چې حتی تر نن ورځې هم بې درکه دي ډېر یې د هجرت په لارو کې شهیدان شوي  او یا په اوبو کې ډوب شوي دي.

## د کفارو چلند

د دنیا کافران دا تکلیفونه، شهادتونه او بندي کېدل د نورو مسلمانانو د وېرولو لپاره کوي. هغوی مسلمانو ورونو ته وایي: (که تاسو هم هجرت وکړئ، ستاسو به هم دغه حال وي، نه به خپلې موخې ته ورسېږئ، وژل کېږی به او یا به زنداني شئ.)

دا چلند د مکې د مشرکېنو هم و. یوه بېلګه یې د بني کنانه قبیلې هغه سړی دی چې غوښتل یې رسول الله ﷺ ته هجرت وکړي خو په لاره کې وفات شو. مشرکینو پرې ملنډې وهلې او ویل به یې: (نه هغه ځای ته ورسېد چې اراده یې درلوده او نه له خپل کور او کورنۍ سره پاتې شو.)

د دې پېښې په اړه الله تعالی دا مبارک ایت نازل کړ:

ketabton.com - The Digital Library

﴿وَمَن يَخْرُجْ مِنۢ بَيْتِهِۦ مُهَاجِرًا إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ثُمَّ يُدْرِكْهُ ٱلْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهُۥ عَلَى ٱللَّهِ﴾ [النساء: ١٠٠].

«څوک چې د الله تعالی په لار کې هجرت وکړي، هغوی به په ځمکه کې د پناه اخیستلو ډېر ځایونه او د ژوند تېرولو لپاره ډېره پراخي ومومي او څوک چې له خپله کوره د الله تعالی او پیغمبر ﷺ خوا ته د هجرت کولو لپاره ووځي او بیا په لاره کې ورته مرګ راشي، د هغه ثواب د الله پر ذمه واجب شو.»

نن ورځ موږ هم هغو کسانو ته وایو چې په مهاجرینو پورې مسخرې کوي، چې دا کار مه کوئ. که دوی ته تکلیف ورسېږي یا په لارو کې شهیدان شي، د الله تعالی دا خبره زموږ لپاره کافي ده. چې ﴿ فَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهُۥ عَلَى ٱللَّهِ﴾. ځکه هغه اجر چې دوی غوښت، الله تعالی یې وعده کړې ده او الله تعالی په خپله وعده کې ریښتونی دی.

## په هجرت کې هدایت دی

الله تعالی په هجرت کې برکت او هدایت اېښی دی، لکه څنګه چې فرمايي:

﴿وَمَن يُهَاجِرْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ يَجِدْ فِي ٱلْأَرْضِ مُرَٰغَمًا كَثِيرًا وَسَعَةً﴾ [النساء: ١٠٠].

«څوک چې د الله تعالی په لار کې هجرت وکړي، هغوی به په ځمکه کې د پناه اخیستلو ډېر ځایونه او د ژوند تېرولو لپاره ډېره پراخي ومومي.»

ketabton.com - The Digital Library

قتادة رضی الله تعالی عنه د دې آيت شريف په تفسير کې وايي: «زما دې په الله ﷻقسم وي چې هجرت مسلمان له ګمراهۍ څخه هدايت ته او له فقر څخه غنيتوب ته بيايي.»

دا د اللهﷻ فيصله ده چې دين نه قايمېږي، شريعت نه حاکمېږي او د اسلام بيرغ نه پورته کېږي، مګر د هغو اسبابو په واسطه سره چې د نبوت، خلفاء راشدينو او صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم په زمانه کې عملي شوي دي. رسول الله ﷺ د دې اسبابو زېری ورکړی دی، چې د هجرت او جهاد په واسطه به ترسره کېږي. لکه څنګه چې فرمايي:

«قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "لا تَنْقَطِعُ الهِجْرَةُ، مَا قُوتِلَ الكُفَّارُ".»

«هجرت به تر هغه پورې نه ختمېږي تر څو پورې چې د کفارو په وړاندې جهاد دوام ولري.» «صحيح سنن النسائي» (۳/ ۸۷٤):

لکه څنګه چې جهاد د قيامت تر ورځې پورې يو روان او پاتې شوی عبادت دی، همداسې هجرت هم د قيامت تر ورځې پورې دوام لري. هجرت هغه وخت ختمېږي چې جهاد پای ته ورسېږي، ځکه هجرت او جهاد له يو بل سره تړلي دي.

ketabton.com - The Digital Library

## هجرت د جهاد لومړۍ مرحله

شهيد عبدالله عزام رحمه الله ليکلي دي، چې د جهاد لپاره څلور مرحلي دي:

١. هجرت

٢. اعداد (چمتو والی)

٣. رباط (سرحد ساتنه)

۴. قتال

د دې مرحلو په لړ کې هجرت د جهاد لومړنۍ مرحله ده. لومړی هجرت کېږي، بيا جهاد ترسره کېږي. له دې څخه څرګندېږي چې هجرت يوازې د بدن انتقال نه دی، بلکې دا د دين د قوي کولو او د الله تعالی د رضا لپاره يو مهم عمل دی چې د هدايت، برکت او کاميابۍ په حاصلولو کې مهم رول لري .

## پـــای

د اسلامي  امت امتياز له نورو امتونو څخه دا دی چې د دعوت ، هجرت او جهاد له لارې ځان شهادت ته رسوي ، له همدې کبله خو په ختيځ او لويديځ کې وروستۍ کاميابي د همدې امت په برخه شوې ، نو دعوت ، هجرت ، جهاد او  شهادت د اسلام په سپيڅلي شريعت کې ډېر ستر مقام او لوړه مرتبه لري ، د حقيقي محبت پايله او د ابدي ژوند پيلامه ده ، هغه څوک ډېر بختور دي چې د الله تعالی په لاره کې اسلام ته خلکو بلنه په

ketabton.com - The Digital Library

دې لار کې هجرت ته مجبور شوي او د الهي قوانينو د تنفيظ لپاره مبارزه کړي او د شهادت لوړ اعزاز تر لاسه کړي .

هو ، ګرانو لوستونکو!

جهاد او شهادت د اسلامي امت له شتون سره يوه نه بيلدونکې سلسله ده ، چې همداسې به روانه وي او همدا مبارزه او قرباني ده چې د امت راتلونکي روښانه کوي ، او تير برم ته يې ورګرځوي .

چې د دې اعزاز ترلاسه کولو دپاره له ټول اسلامي نړۍ خاصکر د آسيا له زړه افغانستان څخه په زرګونه ځوانان د اسلامي امت د تير برم د عيادې او روښانه راتلونکي په پار په اورونو کباب او له خپل رب سره د کړې سودا په کولو د تل لپاره کامياب او بريالي شول .

الله تعالی دي د دوی سترې قربانی په خپل عالي دربار کې قبول وګرځوي او الله تعالی دي موږ هم د ريښتيني مجاهدين او شهيدانو له کاروان سره تل ملګري کړي .

اِنَّ من أعظم الأعمال عند الله أن يجود َ

الاِنسان بنفسه و جسده و روحه فداءً

للاِسلام و أهله

( د الله تعالی په نزد تر ټولو اوچت عمل

ketabton.com - The Digital Library

**دا دی چې انسان د اسلام او مسلمانانو**

**لپاره د ځان ، روح او جسد قرباني ورکړي )**

**تمت بالخير**

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*